# PART # II

سوال نمبر ۲: جواب:

تعارف:

رحمان بابا د پښتو یو مشهور شاعر دے. چې په کال ۱۰۲۲ هجري کښې په پېښور کښې پيدا شوې. د پلار نوم ئې عبدالستار وو. رحمان بابا د دریم دور شاعر دے. او د خوشحال خان بابا د همعصرو دے. د ده شاعري اولسي رنګ لري او د همدې په وجه شهرت لري. د دے نه علاوه رحمان بابا د شاعرۍ ژبه ډېره ساده او صفا ده او پیغام ئې عالمګیر دے چې هر انسان پکښې خپل زړه تسکين محسوس کښي.

### ۰ د رحمان بابا د مقبولیت وجوهات:

د رحمان بابا د مقبولیت ډېر وجوهات دي. ډېرو سکالرانو د دې مختلف وجوهات ښودلي دي چې پکښې څه د لت تفصیل سره بیان شوي دي.

### ۱ دوست محمد کامل صیب:

دوست محمد کامل صیب په خپل مشهور کتاب عبدالرحمان بابا کښې لیکلي چې د رحمان بابا د شاعرۍ یو غټه وجه دا ده چې د رحمان بابا د کلام ژبه ډېره ځانګړې

صفا، ساده، سلیس ده. چې هر انسان ئې په اسانه مانړي په معنی او مطلب پوهیږي او په اسانه ئې لولي په دې وجه رحمان بابا ډېر زیات مشهور دے.

ii) عبدالحي حبیبي:

عبدالحي حبیبي صیب لیکي چې ده د رحمان بابا د شاعرۍ ژبه ډېره ساده او صفا ده. او دیوان ئې ډېر زیات مشهور دے داځکه شهرت په پښتو ژبه کښې د بل چا د دیوان نشته په دې وجه رحمان بابا ډېر زیات مشهور دے.

iii) سید رسول رسا:

سید رسول رسا صیب لیکي چې د رحمان بابا شاعري د اسماني کتابونو نښان داځکه هر طالب ئې وائي نو پوهیږي معنی پکښې مخکې راځي. په دې وجه رحمان بابا ډېر مشهور دے.

iv) صدیق الله رښتین:

صدیق الله صیب وائي چې د رحمان بابا شاعري ډېره صفا او ساده ده. په دې وجه ډېر موثر ده او د ده مقبولیت کښې اهم کردار ادا کښې.

v) مولانا عبدالقادر:

عبدالقادر صیب لیکي چې

تر څو د پښتو ستونکي په دې خاورې ژوندي دي نو رحمان بابا شاعري به ژوندۍ وي. همغه وي چې د رحمان بابا شاعرۍ کښې پښتانه د خپل زړونو تسکین محسوس کړي.

## vi) عالمګیر پیغام:

د رحمان بابا شاعرۍ موضوع انسان دے او انسان دوست شاعري ئې کړې ده. د دہ شاعرۍ کښې اخلاقي رنګ ډیر نمایان دے. په دغه وجه ئې هر انسان لولي او د خپل زړه سکون پرې پکښې تلاش کړي. په دغه عالمګیر پیغام په وجه رحمان بابا ډیر مشهور دے.

## vii) اولسي شاعري:

د رحمان بابا شاعري اولسي رنګ لري نو په دغه وجه په هر کور او کوڅه کښې وئیلے کېږي. د حجرې نه واخلې تر جماعت د ممبر پورې هر کس د رحمان بابا شاعري وائي دغې رحمان بابا په مقبولیت کښې اضافه کړې.

## خلاصه بحث:

رحمان بابا د پښتون په ډیر مشهور شاعر دے او د مقبولیت وجوهات کښې ئې صفا ساده ژبه، د دیوان شهرت او د عالمګیر پیغام شامل دے. د دے نه علاوه د رحمان بابا شاعري

اولسي رنګ هم لري او ګله د اسماني کتابونو پېغام
چې هر ځل يې واچې نو بيا نوې معنی پکښې راوځي. په
دغه وجه هغوی ته په وجه رحمان بابا ډېر مشهور
دی.

---

سوال 4: جواب:

تعارف:

غني خان چې په پښتو فلسفي په نوم
هم یادیږي د پښتو ژبې ډېر مشهور شاعر دی. دی په
کال 1914ء کښې په هشتنغر کښې په یو عظیم کورنۍ کښې
پیدا شوه. د پلار نوم یې عبدالغفار خان دی چې
د باچا خان فخر افغان په نوم مشهور دی. د غني
خان ژوند نه صرف یو شاعر بلکه د یو فلسفي، مصور،
او سیاستدان په وجه هم ډېر اهمیت لري. غني
خان د انګریز خلاف د ازادۍ په جنګ کښې اهم
کردار ادا کړه او خپل پلار سره په سیاست په
میدان کښې ولاړ وه. د غني خان په هر اړخ شاعري
کړې ده فیلسوفیانه رنګ پکښې غالب دی. دا رنګه
په فلسفه کښې د ژوند مرګ او مرګ نه بعد ژوند
یو غالب صفت دی.

1) د غني خان په شاعرۍ کښې فلسفه:

د غني خان

په یو فلسفي په رنګ چې کومه شاعري کړې ده په
هغې به مونږ لاندې بحث کوو.

• چې نه شته نه پاره
مرګ انجام د هستۍ نه دے

خلاصېدل شراب په جام کښې
افتتام د هستۍ نه دے

چې د ګومې شپې مخام وي
نو د هغې سبا هم وي

چې یو نوي بل هم نه وي
ګله وي نو وي به دوباره

دې دریاب نه پورې
شته دې بله لارا .

تشریح:
په دغه شعر کښې غني خان د مرګ
نه بعد ژوند باره کښې فرمائي چې مرګ د ژوند
اختتام نه دے د ژوند نه بعد یو بل ژوند هم
شته دے. څنګه چې د شپې نه بعد بیا سحر شي دغه
شان به د مرګ نه بعد بیا ژوندوي او په مرګ
دافسوس ضرورت نه ده ځکه چې داختتام نه دے
دا خو د یو ژوند نه بل ژوند ته سفر دے.

۰ دا ژوندون دے دوه ورځې
خلاص به شي او تېر به شي

دا غني به خاورې شي د
روک به شي او هېر به شي

تشریح:

په شعر کښې غني وائي چې ژوندون فاني دے
او ختمېدون والا دے يو ورځ به راشي چې دا به ختم
شي. دا انسان فطرت ته اشاره کښې چې څنګه هر
انسان به خاوره کيږي هغه سې به غني هم
خاوره شي او دې فاني دنيا نه به ورک شي.

۰ هر څه د رب همه د رب
څه يو فاخام لا راغلے يم

جام او انګور او ميخانه د بار
څه بس يو جام له راغلے يم

تشریح:

غني خان په دې شعر کښې فرمائي چې لا فاني
ذات صرف د الله دے دا ټول کائنات بادشاهي
د هغې رب دا. څه صرف لګ وخت له دے دنيا ته
راغلے يم او ډېر زر به فنا شم. او دے دنيا وخت
ډېر لګ دے او ډېر زر به تېر شي.

° مرګ لویه نیکي دا چې ته اوګوره د جانان سره
مرګ ستا نور له پوره کښې تل به وې د ځان سره
مرګ هغه نېټه ده چې جانان کښېنوې د جانان سره
مرګ پټه نکاح دا د مکان د لامکان سره

تشریح:

غني خان فرمائي چې مرګ یو لوی احسان دے الله په انسان ماندې اوکړه. ځکه چې مرګ سره انسان د دنیا د غمونو نه خلاص شي او خپل رب سره ملاقات له لاړ شي. او غني نزدې مرګ، خپل رب سره د ملاقات نه علاوه بل څه نه دي هغه وې چې ده یو داسې نېټه ده چې رب خپل مخلوق سره ملاقات له ایښے ده.

° حسن دے بس حسن چې هم خدائے او هم جانان دے
دې فاني دنیا کښې بل مثال د لامکان دے

تشریح:

دې اشعار کښې غني خان د الله د حسن باره کښې فرمائي الله تعالیٰ د حسن نه ډک. له چې د هغه تخلیق یعنې دے دنیا ته اوګورې. نو وا یکښې ښکاره ښکلې چې دا دنیا د حسن نه ډکه دا او ددې تخلیق کولو والا به هم تش حسن وي. غني خان ته نزدې که څوک د خپل رب لیدل غواړي نو دې دنیا کښې دے حسن ته دې اوګورې نو خپل رب سره به ئې ملاقات /

## خلاصه بحث:

د غني خان په شاعرۍ کې فلسفیانه رنګ ډېر زیات دی. د هغه د فلسفې مرکزي مبحث ژوند او د مرګ نه بعد ژوند دی. هغه په ښکلي فلسفیانه رنګ کې د ښکلي رب تعریف هم کړی او د انسان د ژوند اصل حقیقت هم ښکلي مخلوقونو ته ښوولي کړي. که د غني خان په فلسفه غور وکړ شي پوهه کې نور فلسفي ډېر غټ سوالونو جواب به ورته حل وشي.

---

## تعارف:

خوشحال خان بابا په کال ۱۰۲۲ هجري کې په اکوړه خټک کې د شهباز په کور کې پیدا شو. دا په نسل خټک وو او د مغل د طرف نه په پښتنو خان او ماڼدي منصب دار وو. د پلار د مرګ نه پس خوشحال خان د خټکو خان شو او د مغل د طرف نه یې د پښتنو خلاف او خاص طور ماڼدي د یوسفزو خلاف جنګونه کول. د اورنګزیب په دور کې د یو سازش په وجه قید کړی شو چې ۴-۵ کاله په رنتنبور کې قید وو. د قید نه بعد یې د مغل خلاف توره اوچته کړه او د پښتون قام د راویښولو کوشش شروع کړه. او د مغل خلاف جنګ کې د سره ایمل خان او دریا خان مرسته او کړه. د ژوند مختلف ادوارو دا دی په شاعرۍ هم غټ اثر اوکړه. او د ژوندي

شاعر په توره هم بادشاه.

۱) د خوشحال خان بابا شاعرۍ بنسګارا اړخونه:

i) اخلاقي شاعري:

ے. که اسمان دې د زمري په خوله کښې ورکړي
ده اسمان په خوله کښې مه پرېږده همت

په دې شعر کې خوشحال بابا وائي چې په ژوندون کې
که هر څومره سخته راشي خو همت به نه بائلې.
د همت سره به د مشکل وخت مقابله کړې.

ے. چې دروغ د خولې اوباسي کله خوله ده
چې رښتیا د خولې اوباسي خوله هغه ده.

خوشحال بابا په دې شعر کښې د رښتیا ویلو
درس ورکښې چې په هر حال کښې به رښتیا ویا
کښې. هغه کس چې هغه دروغ وائي نو د هغه
خوله وائي هیڅ خوله نده. سړے صرف هغه دے
چې رښتیا ویله اوکښې.

ے که دې ټوله مخلوق د دره ناېږي کړه
بادشاهي دې مبارک شه که نده ئي

په دې شعر کښې خوشحال بابا فرمائي چې هر انسان
له د بل انسان نه څخه نه دي ګدا سائل پکار.
څخه صرف د خپل رب نه سائل پکار دي چې د ټول
جهان بادشاه دے. که چرې یو انسان د نورو
نه څخه غنچه کړي نو داسې انسان په اصل مضمون
کښې بادشاه شي.

(ii) قامي شاعري:

ے هره چاره تر پښتون تر عقل بنده ده
اتفاق ورسره نشته دے ډېر ارمان

دې شعر کښې شاعر فرمائي چې پښتون په هر موړ
کښې ده عقل نه بند دے. دے په نصب او جنګ کښې
ده عقل نه اوچت دے. خو پښتون کښې اتفاق نشته
که چرې پښتون قام کښې اتفاق پیدا شته نو
هندوستان تخت به بیا ردي شي.

ے. په بنائشت ئي څخه ده وینه ده
چې په اصل د یعقوب قام وتبار دي

په دې شعر کښې خوشحال بابا د پښتون اصل نصب
ذکر کړے دے. چه پښتانه ځکه هو هم ډېر بنائشته دي.
چې دوی دا حضرت یعقوب علیه اولاد دے. ځکه چې
حضرت یوسف علیه د خپل حسن د پاره مشهور وو.

د هغه څخه پښتانه هم د خپل حسن د پاره په دې
نمرې کښې مشهور دي ځکه چې دا هم د حضرت یعقوب
د نسل سره تعلق لري.

ـــ چې څوک یاد کاندي کابل
په مغل مې شي غلغل

چې یاد کا پېښور
زړه مې شي منتور

په دې شعر کښې خوشحال بابا د پښتون خاورې
سره د خپل مینې اظهار کړے دے. هغه وائي
چې څوک هم صاف د کابل ذکر او کړي نو ځما زړه خوشحاله
شي.

## (iii) عشقیه شاعري:

ـــ چې د مخ پلوې وا شه یو مشال و چې نوا شه
هغه دم لړې پروانه وم پروانه یم له تر اوسه

خوشحال بابا د خپل محبوب د حسن تعریف کړے
دے وائي چې کله د هغه د مخ نه پلوا لرې شه
او د هغه د حسن دیدار مې او کړه نو هغه داسې او
ګڼل چې یوه مشال دې او څه څې په ګمان وائي ښېځن
کړم ځکه چې یو پروانه په مشال ماندې مئین وي.

۷ - ولې راته وايي چې په بنګلو نظر مه کوه
بنګلو کې چې پیدا دي څو دېدار لري ګڼه

خوشحال بابا وايي چې تاسو ما ولې و بنګلو دیدار نه منع کوئ. دا شکې بنده الله ج د هغې له پیدا کړي دي چې په دې ما ئدې د دنیا ئې موجود وسن دیدار او کړې شي.

## ۱۷) رزمیه شاعري:

۷. پس له بنده دې ده عزم
د خوشحال د خاطر جزم

په نیوي مخ مکې ته
په مغل وسره نه ځم

دې شعر کې خوشحال بابا وايي چې و قید نه بعد ما دا عزم کړې دې چې په بنوبه کور ښه اوو په حوصله په ناست یم او په بار مغل خلاف ثوري او ماځوم. او تاریخ دا ثابت کړل چې خوشحال بابا د مغل خلاف اعلان جنګ او کړه او تول عمر ئې د هغې خلاف جهاد ئې تېر کړه.

ـــــ چې مغل ورته چې اونیوله توره کړه
درست پښتون چې و عالم ورته ښکاره کړه.

خوشحال بابا وائي چې پښتون قام مخکې چا نه پېژنده خو چې کله ما د مغل خلاف توره راواغسته نو پښتون ټول عالم ته ښکاره شوه چې دا هم یو غښتلی قام دے او د میدان جنګ کښې د دې سره مقابله څوک نشي کولے.

خلاصه بحث:

خوشحال بابا د شاعرۍ په هر اړخ باندې شاعري کړې ده. که عشقیه شاعري دا او که رزمیه په هر اړخ کښې ئې لیک کړے دے. او د پښتون ادب خزانه ئې په ډېره زرخېزه کړې ده. څنګه چې خوشحال بابا وائي:

ـــــ که د نظم که د نثر که په خط دے
په پښتون ژبه مې حق دے بې حسابه

---

سوال نمبر 7: اولسي ادب:

اولسي ادب معني ادب ته وئیلے شي چې مصنف يې نه وي معلوم او سينه په سينه د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کيږي. دا په ليکلے حالت کښې نه وي موجود او ژبه يې ډېر اسانه او ساده وي په دغه وجه د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کيږي.
دا په نثر او نظم دواړو صنف کښې وي.

د پښتو ژبې اولسي ادب:

ډېر شمېر اصناف يې دي. بعضو مشهور اصناف يې دا دي.

1) ټپه:

دا د پښتو ژبې ټولو نه مشهور صنف دے. دا په مختلف نومونو یاديږي لکه مصرعه، لنډۍ. قلندر مومند صیب يې ده نوم وجه دا خودلې ده چې پښتانه ټپه لکه د زهر استعمالي او زهر ته په پښتو کښې ټپه وي.

ساخت:

ټپه په دوه مصرعون مشتمل وي. اومبۍ مصرعه يې لنډه وي او دوېمه اوږده وي. په اومبۍ مصرعه کښې 9 سيلابونه وي او په دوېمه مصرعه کښې 13 سيلابونه وي.

CamScanner

ے عالم په ویښه جانان ویني
څه بدنصیبه یمه چې په خوب کښې نه وینمه

ټول خوش نصیب خلق خپل جانان په ویښه ویني خو څه داسې بد قسمته یم چې څه خپل د محبوب دیدار په خوب کښې هم نه کوم.

ے ارمان ارمان د دادا کوره
د غره شکوره به چاپېړه ګرځېدمه

دیدار په کور کښې انسان بې غمه ژوند کښي بشو وچې کله مسافر شي نو بیا غم کیږه روښې هم نه کوي نو بیا بنده ته د خپل کور ارمان راشي.

ے توري جامې واچوه یاره
توري جامې درسره ډېر ښه ښکارینه

خپل محبوب ته وايي چې ته توري جامې واچوه ځکه چې ته په تورو جامو کښې ډېر ښکلې ښکارې.

2) چاربیته:

د پښتو ادب د پښتون ټولو نه مشهور صنف دے. داري څلور بیتونه وي ځکه ورته چاربیته وي.

ساخت:

د چاربيته اولني دوه شعرونه ټه سر وي د سر نه بعد دريم قافيه شعرونه وي او بيا د سر دريمې شعر مطابق څلورم شعر وي. آخري شعر د سر دويم شعر دوباره ليکل شي.

۱ـ حمزه له د پښتو غزل پلار غني دے
ګوهر خلکه د امن طلب ګار غني دے

ګوهر دے د بچپن نه د سامراج بر خلاف
ملګرے د ناشوانون ټل د راج بر خلاف
د غيرون په ډاکيشر دے د علاج بر خلاف

نن يې کښې د پيرانون څه سردار غوثي دے
ګوهر خلکه د امن طلب ګار غوثي دے.

نيمکۍ:

نيمکۍ هم د اولسي شاعرۍ يوه صنف دے. دې ته نيمکۍ ځکه وائي چې دې کښې يوه مصرعه نيمه ځا او دغه بار بار ويلے کيږي نو به دغه وجه دې ته نيمکۍ وئ.

۲ـ څه چې په چغو چغو چارم
دې ځانه وې؟
ځما د مينه په نور اور او تګيدنه

وي خانه وي؟
څه چې پیدا شوم په ژړا شوم
وي خانه وي؟
په دنیا ګور نصیب به چرته شومه
وي خانه وي؟

د غمونو شړکول پیرمن راغله
وي خانه وي؟
په غمونو غمونو رانه ګوري ماسپزینه
وي خانه وي؟

۴) بدله:

بدله هغه صنف دے چې پکښې د هر شعر قافیه او ردیف بدل بدل وي. او په دغه وجه ورته بدله وائي. په غزل کښې د هر شعر قافیه او ردیف یو شان وي خو په بدله کښې بدل بدل وي.

ځ) لوړه قیصې د زړه کوم د ګل په رنګ
چې د لرې شي د څوګ زړګي نه غم

د اکبر بادشاه په زمانه کښې زما لاله
یو عاشق د قبروم دي زه احواله

د

د دې کور د فولادي کلي زه برج
چې اوس ښکاري د هغه ځوان د غم د سره.

د پورو وه سپي وساتلي مزېدار
چې محبت يې وشره کوه بېسيار

سوت به دې املي وي د کونکرون
چې شمرنګار به چې کوه به لار ه رو.

د شبرنګار شير بالون بې بې ترغونګ شو.
دې اوار سره چې زړه الله تلګ شه.

5) سندره:

سندره د بدلې او چاربيتې په شان يو ټوپې شکل دی. دا د خوشحالۍ په موقعو ويلې شي.

ساخت:

د سندرې شعر ورته يې. لومړنۍ مصرعه يې لويه وي او دويمه لنډه. ټول لومړنۍ ورته او دويمه لويه وي.

د سندرې پس هم قافيه شعر ورته وي. د دې تعداد د درې نه تر ۱۰ پورې کېدې شي. بيا د سر لومړنۍ شعر برابر مصرعه ويلې شي. او آخري مصرعه د سر دويمه مصرعه دوباره ويلې شي.

ے خو ځینې د ښاپیرو کړې سنګار دے
زړه کې یې بې قرار دے اوس غواړي دیدانونه.

خو ځینې کړې سنګار د ښاپیرو دے
د حسن غګ په ټول جهان کښې رخسارونا دے
~~بل پلو~~
مسرے پیزوان کې او پیزران خه په نخرون دے

بل کې په غاړه کښې د سرو یاقوتو هار دے
زړه کې بې قرار دے اس غواړي دیدانونه.

4) لوبه:

د لوبه پر مشهوره صنف دے. اکثر د ښځو په اواز ویلې شي او د خوشالۍ په موقع ویلې کیږي.

ساخت:

او لنې بشعر شه سر ویلې شي. د سر دوه مصرې وي. سر نه پس دري مصرے وي چې هغه هم قافیه وي هغې نه پس د سره وبي مصرے سر برابر مصرعه ویلے شي او آخري مصرعه د سر دویمه مصرعه دوباره ویلے شي.

Scanned with CamScanner

ــه ستا د خاڅې په ګلي راغلی ځم سیلاب ملکه
شي به خراب ملکه

ستا د خاڅې ګلې برباد وینمه
د غر بیابانون کور اباد وینمه
غشې ځیږي واړه په فریاد وینمه

ستا غله خیال وچي به راځي ځم سیلاب ملکه
شي به خراب ملکه.

---

Scanned with CamScanner